# د پښتو ژبې په مورفولوجي کښې د وزیرۍ لهجې نومونو او ضمیرونو کارونه

# The Functions of Nouns and Pronouns in Waziri Dialect of Pashto Language

Ayatullah Khan wazir*
Nasrullah Jan Wazir**

**Abstract:**

The need for a key occurs when something is locked. It means that the grammar is considered the key of a language. We can't deny the fact that the basic thing in a language is the alphabet. Although the building is morphology, its foundation is the alphabets. First of all we have learned any language, it is necessary to learn it's alphabetic or letters. So it was easily learn. Waziri dialect is the sixth major dialect of Pashto language, how a large tribe speaks on this dialect. This dialect has a special structure. For this reason, in some rules is slightly different from the Pashto standard dialect. It is difficult to explain all the rules of grammar in this short article, which is different with standard dialect. So I want to explain nouns and pronouns briefly.

**Keywords:** morphology, alphabetic, dialect, language, rules, standard, grammar, nouns, pronouns

## د صَرف معنې (Meaning of Morphology)

هسې خو صرف په ډېرو معنو کارېږي- البته په توریو کښې توپیر لري- هر کله چې په صَرف کښې د /ص/ په آواز زوارکے راشي نو دا هغه صرف یادېږي کوم کښې چې مونږ د ژبې علم مطالعه کوو – د صرف معنا پښتو اکېډیمي لغت ځۀ په دې ډول راوړې ده:

"صَرف:- (ص+ ر+ ف) (ع- اس) (۱) کره کوټه کتل- پلټنه- د صرافۍ کار- (۲) خرځ- لګښت- (۳) د یو علم دے نوم چې په کښې د یوې کلمې د عوارضو یعني د هغې تقسیم،تعلیل او د اشتقاقونو وغېره بحث کولے شي-" (1)

* PhD Scholar Pashto Academy University of Peshawar
** Director Pashto Academy, University of Peshawar

بل تورے صرِف دي چې په /ص/ سره د مخصوصې ئې نیمواک آواز یو ځاے کېږي هغه صرِف په معناً د خالي، مخض یا بس ورکوي-

## د صَرف تعارف (Introduction of Morphology)

صرف د قواعدو هغه پوهه یعني علم دے- چې په دې کښې د مختلفوکلمو ډولونه، حالتونه، ګردانونه او اشتقاقونه او داسې نور- چې په هغۀ کښې د کلمو د تشریحاتو په حوالې سره بحث وړاندې کېږي- ګل محمد مومند د صرف تعارف په لنډو توریو کښې په دې ډول راوړے دے- هغه لیکي:" پښتو صرف دغسې علم دے چې د پښتو د سم ویلو (وئیلو) او سم لیکلو د پاره اصل کلمات او داشتقاق ډول ئې ښیي (ښائي)-"(2)

په دې لنډ شانتې تعارف کښې ډېر څۀ څرګند شول- که د هرې ډاډې ئې وکچو ناپ هغه دے- چې په سر کښې واخیستے شو- هسې خو د پښتو په صرف بلها ډېر تصنیفات لیکلي شوي دي- هر یو محقق دغه یو بیان په خپل خپل انداز کښې وړاندې کړے دے-

صدیق الله رښتین د کلمو ډولونو، حالتونو یعني تغیر او بدلون، ګردان او اشتقاق او د کلمې تشریحاتو ته صرف وئیلي دي- (3)

مجاور احمد زیار د مورفیمومونو له رغونې، نښلونې، بېلونې، بدلون او اوړون او په پاي کښې له ډلبنډۍ سره کارولو ته صرف وائي-(4)

محمد صابر خوږشکي د یوې ژبې ټاکلي شوي مورفیمونه، د هغوئ جوړښت، ترکیب، ګردان او د هغوئ ډولونه د څېړنې لاندې بحث کولو ته علم صرف وئیلي دي- (5) که د څلورو واړو محققینو په تعریفونو نظر واچولے شي- نو د توپیر په کښې ذره برابر ګنجائش مخې ته نۀ راځي- بس مخض تشریحات ئې د یو بل سره اختلاف لري-

زۀ به د اوویم چې صرف هغه پوهه ده چې دې نه بغېر د یوې ژبې نورې دواړو برخې شلې دي، بلکې بې ساه دي- صَرف په ژبه کښې د سر حېثیت لري- چې په وجود کښې سرنۀ وي نو د بقایا وجود پېژندګلوي نۀ کېږي- که چرته د یوې ژبې نه علم صَرف لرې کړے شي نو مخض آوازونه به پاتې شي چې هېڅ کله د مفهوم او معنې ضرورت نۀ پوره کوي او نۀ نحو یعني فقره ترې جوړېږي-

## **د وزیری لهجې صَرف** (Morphology in Waziri dialect)

چونکې د صرف اصلاحي ، لغوي معنو او تعریفونو وېنا خو وړاندې وشوه- اوس دلته د لیک لهجې په تناظر کښې د وزیری لهجې صَرف تشریح کول غواړم- د پښتو لیک لهجه او وزیری لهجه دواړه د پښتو معیاري لهجې دي چې یوه ته د لیک او لوست رتبه ورکړې شوې ده او دغه بله یوه عام د وګړیو لهجه شمارلې شوې ده چې په وزیرستان او د بنو په ځنې سیمو کښې خصوصاً او په ګړده نړی کښې عموماً وئیله کېږي- دغه لهجه چې په نوم وزیری لهجه یادېږي او د مینځی لهجې عمارت د دغې لهجې په بنیاد تعمیر شوے دے- وزیری لهجه علم صَرف او د هغهٔ په صیغو کښې د لیک لهجې سره ډېر خاص توپیر نهٔ لري البته بعضې ځایونو کښې ئې تغیرات هم شته او زهٔ غواړم چې دغه تغیرات په ګوته کړم- په صَرف کښې وړومبی صیغه د نوم ده-

**د وزیری لهجې نومونه** (Noun of Waziri dialect) : نوم د لاطینی ژبې تورے دے چې ورته سوبستانتیو (Substantive) وئیلے کېږي- د نوم هم ځانله خپله معنا لري، یعني نورو نه رابیل شوے- تعارف به ئې په ډول وي- د لیک لهجې په شانتي په وزیری لهجه کښې هم دوه ډولونه دي- یوه خو په خپله نوم چې مونږ ئې د اشخاصو، څیزونو یا ځایونو په اصطلاح سره اورو، بل هغه نومونه دي چې د نوم سره تړلي شوي دي- لکه: ضمیر، صفت او اعداد، دغه دواړه قسمه نومونه په وزیری لهجه کښې دوام لري- دې نه پرته په اشخاصو کښې د نرینه نومونه بېل دي او د ښځینه نومونو قاعده بېلا ده- چې د وزیری لهجې په ګردان کښې به ئې تفصیلي لیک وړاندې شي- بعضې پوهانو د نوم دوه حالتونه ښودلي دي چې معنوي او لفظي مونونه ئې ورکړي دي- په معنوي حالت کښې بیا نور څلور حالتونه وړاندې شوي دي- چې ورته فاعلي حالت،مفعولي حالت، ندائي حالت او ارتباطي حالت وئیلے شي- (6)د نوم مثالونه په دې ډول دي:

- احمد ، زورین، غوریه، عارفه او داسې نور نرینه او ښځینه نومونه دي-
- جامات (جمات)، مندراسه (مدرسه)، کېر(کور) او داسې نور د ځایونو نومونه دي-
- جېک (جاک)، الیګون (الو)، جیوور (جوار) او داسې نور د څیزونو نومونه دي-
- بل د ځناورو او مرغانو نومونه دي چې د ژوندي سوریو په صیغه کښې کارېږي-

په دې برېکټ کښې بند شوي اسمونه خوا د اشخاصو دي یا د ځایونو او یا د څیزونو د لیک لهجې نه راخیستي شوي دي-

**د نوم فاعلي حالت:** کار کولو والا ته فاعل وائي- یا په فقره کښې کوم کار چې په چا پوره صادر شي او یا به داسې اوویو چې کوم کار په چا پورې وتړلے شي- دغه ته فاعل وئیلے کېږي- په وزیرۍ لهجې کښې به ئې نمونې په دې ډول وي:

- احمد ماڼه خوري- (وزیري لهجه)
- احمد سیو یا مڼه خوري- (لیک لهجه)
- زورین چرګ آلولا وي- (وزیري لهجه)
- زورین چرګورے حلالا وي- (لیک لهجه)
- غوریه غوو ته اپئ وېرکاوي- (وزیري لهجه)
- غوریه غوا ته اوبۀ ورکوي- (لیک لهجه)

په دې باندو فقرو کښې «احمد»، «زورین» او «غوریه» فاعلي حالتونه دي-

**د نوم مفعولي حالت:** په یو نوم باندې د څۀ کار کېدو اثر ته مفعولي حالت وئیلے کېږي- دمثال په توګه:

- زۀ وریژې خورۀ یا خورمه- (وزیري لهجه)
- زۀ وریجې (چاول) خورم- (لیک لهجه)
- تۀ کېتوب یایې- (وزیري لهجه)
- تاسو کتاب وائې- (لیک لهجه)
- مو خو ماړۍ یا ماړې وخواړه- (وزیري لهجه)
- ما خو روټۍ وخوړه- (لیک لهجه)

په دې فقرو کښې «وریژې» (وریجې)، «کتبوب» (کتاب) او «ماړۍ» (روټۍ) مفعولي حالت دي چې د خوراک، وئیلو او خوړلو اثر پرې شوے دے-

**د نوم ندائي حالت:**_ که چرته یو نوم ته غږ او یا د منع کولو خبرداری ورکړه شي نو هغۀ ته د نوم ندائي حالت وئیلے کېږي- مثالونه:

- وو چرې څې، زۀ دېرساره لوړ شۀ؟ (وزيري لهجه)
- اې چرته ځېو زۀ درسره لاړ شم؟ (ليک لهجه)
- آئي آئي دا څۀ کې؟ (وزيري لهجه)
- اې اې دا څۀ کوې؟ (ليک لهجه)

«وو» (اې) او «آئي آئي» (اې اې) په دې باندې فقرو کښې د ندائي حالت خبر ورکوي-

**د نوم ارتباطي حالت:** هغه توري چې د نوم سره ئې رابطـ قايم وي هغه ته ارتباطي حالت وئيلے کېږي- د کښال په توګه:

- دې کبر نه روغلل- (وزيري لهجه)
- له کوره راغلل- (ليک لهجه)
- بازور ته څۀ څمه- (وزيري لهجه)
- بازار ته ځم- (ليک لهجه)
- يغ نه وو وی- (وزيري لهجه)
- هغۀ نه به وي- (ليک لهجه)
- مو وو وېر وائي- (وزيري لهجه)
- ما به ور کړے وۀ- (ليک لهجه)

«دې» (له)، «ته»، «نه»، «وو» (به) ارتباطي توري دي چې د «کبر» (کور)، «بازور» (بازار) «و يغ» (هغۀ) او «مو» (ما) سره ئې ربط جوړ کړے دے-

## ضميرونه/ نومځري (Pronoun)

ضمير په يوه فقره کښې يو نوم دوم ځلي تکرارولو ته نۀ ورکوي- چې په دې سره فقرې خوند ختمېږي- ضمير د قواعدو هغه کلمه ده چې د يو نوم (اسم) نمائيده جوړېږي او يا په اسانه لهجې کښې د دا اوويو چې ضمير د نوم په ځائے کارېږي- (7) د مثال په توګه: زۀ، تۀ، توس (تاسو)، يغ (هغه)، آ (هغه)، مو (ما)، ميژ (مونږ) او داسې نور- دغه ټول ضميرونه دي-

دې نه سېوا ضمير يو شمار قسمونه لري- چې په هغۀ کښې: شخصي ضميرونه، اشاري ضميرونه، استفهامي ضميرونه، مبهم ضميرونه او ربطي ضميرونه شامل دي-

**شخصي ضمير:** په حاضر، متکلم او غائب باندې دلالت ورکولو ته شخصي ضمير وئيلے کېږي- شخصي ضمير بيا ځانله دوه ډولونه لري- چې يو ته «منفصل» او بل ته «متصل ضميرونه» وئيلے شي- «منفصل» هغه ضمير دے چې د بلې کلمې سره يو ځاے نۀ راځي- بلکې تل ترتله ځانله بېل ليکلے شي- د مثال په توګه:

| جمع | | | | مفرد | |
|---|---|---|---|---|---|
| اصلي حالت | | غير اصلي حالت | | اصلي حالت | |
| ليک لهجه | وزيرۍ لهجه | ليک لهجه | وزيرۍ لهجه | ليک لهجه | وزيرۍ لهجه |
| مونږ | ميژ | ما | مو | زۀ | زۀ |
| تاسې | توسې | تا | تو | تۀ | تۀ |
| دوے | دائي دې | دۀ، هغۀ | دۀ، يع | دے | دائي |
| هغوي | دائي دې | دې،هغې | يغې | ده | دې |

باندې په مفرد او په جمع کښې وړاندې شوي مختلفو ضميرونو ته ضمير «منفصل» وئيلے کېږي- داسې نۀ ده چې ذکر شوي ضميرونه د کومې فقرې سره يو ځاے نۀ کارېږي البته هر کله چې د کومې فقرې سره ئې ربط جوړ شي- هغه ضمير نوم بدل شي او د «منفصل» نه «متصل» شي- لنډ شانتې تعارف به ئې دا وي- چې «متصل» ضميرونه ځانله په يوازې ډول نۀ راځي بلکې د فعل سره يو ځاے تړلي وي- چې مثالونه به ئې په دې ډول دي-

| جمع | | | | مفرد | |
|---|---|---|---|---|---|
| | اصلي حالت | | | اصلي حالت | |
| متکلم | ليک لهجه | وزيرۍ لهجه | متکلم | ليک لهجه | وزيرۍ لهجه |
| | مونږ ځو | ميژ يا ميژه ځي | | زۀ ځم | زۀ ځۀ يا ځمه |
| مخاطب | تاسو ځې | توس ځې | مخاطب | تۀ ځې | تۀ ځې |
| غائب | هغوي تللي دي | آ تللي دي | غائب | هغه تللے دے | آ تللائي دائي |

متصل ضمير ته «فعلي ضمير» هم وئيلے شي- بل د دې کارونه په هره زمانه کښې کېږي مخض په يوه زمانه پورې تړلي نۀ دي-

**اشاري ضمير:** پہ وزیری لهجه کښې لکه د پښتو لیک لهجې په شانتې اشاري ضمیرونه هم شته، اشاري ضمیرونه هغه ضمیرونه دي چې د اشخاصو او څیزونو په ځاے کاربږي- مثالونه ئې په دې ډول دي:

- «دا» یا «دغ» (**مفرد نرینه له پاره کاربږي**) په وزیری لهجه کښې «دغ» او په لیک لهجه «دغه» کاربږي- (مخاطب)

دا څېک دائي؟ یا دغ څۀ کړي؟ (وزیري لهجه)

دغه څوک دے؟ یا دغه څۀ کړي؟ (لیک لهجه)

- «دو» یا «دغې» (**مفرد ښځینه له پاره کاربږي**) په لیک لهجه کښې «دو» په ځاے «دا» کاربږي او د «دغې» په ځاے «دغه» او «دغې» دواړه ضمیرونه کارولے شي- (مخاطب)

دو چېرې دو؟ یا دغې څۀ رووړي؟ (وزیري لهجه)

دا چرته ده؟ یا دغې څۀ راوړي دي؟ (لیک لهجه)

- «دېغدې» (**جمع نرینه له پاره کاربږي**) په لیک لهجه کښې ورته «دوي» وئیلے کېږي- (مخاطب)

دېغدې چېرې لوړل؟ (وزیري لهجه)

دوي چرته لاړل؟ (لیک لهجه)

- په وزیری لهجه کښې جمع ښځینه له پاره هم «دېغدې» صیغه کارولې شي او په لیک لهجه کښې ورته دوي کارول شي- (مخاطب)

دېغدې څۀ کي؟ (وزیري لهجه)

دوي څۀ کوي؟ (لیک لهجه)

د خو هغه ضمیرونه وي چې نږدې اشخاصو یعني نرینه او ښځینه ته اشاره کولو له پاره کاربږي- په اشاري ضمیر کښې لرې اشخاصو ته اشاره کولو له پاره بېل ضمیرونه کاربدلے شي چې نمونې ئې په دې ډول دي:

- آ (**مفرد نرینه له پاره کاربږي**) په لیک لهجه کښې ورته «هغه» وئیلے شي-(غائب)

آ څېک راوون دائي؟ (وزیري لهجه)

هغه څوک راوان دے؟ (لیک لهجه)

- نرینه جمع صیغې له پاره هم په وزیرۍ لهجه کښې دغه یو ضمیر کاردېدهٔ شي البته په لیک لهجه کښې ورته «هغوي» راوړلے شي- (غائب)

آ څهٔ شول؟ (وزیري لهجه)

هغوي څهٔ شول؟ (لیک لهجه)

- د ښځینه صیغې له پاره هم وزیرۍ لهجه دغه«آ» ضمیر کارولے شي چې لیک لهجه کښې هم ورته د نرینه په شانتې «هغه» کارېږي- (غائب)

آ څهٔ کي؟ (وزیري لهجه)

هغوي څهٔ کوي؟ (لیک لهجه)

- په جمع صیغه کښې هم دغه مفرد ضمیرونه کارېږي چې د دواړو لهجو په مینځ کښې ئې قسم هېڅ توپیر نهٔ شته- البته په نمیګړي فعل پېژندګلوي په اسانۍ سره کېدے شي- چې د فقرې په پاي کښې د «ي» استعمال کېږي-

آوو اراخي وي- (وزیري لهجه)

هغوي به رارخېدلي وي- (لیک لهجه)

د فقرو په رڼا کښې د اشاري ضمیر پېژندګلو نه پس مونږ سره بل ضمیر استفهامي ضمیر دے-

**استفهامي ضمیر:** استفهامي ضمیر هغه ضمیرته وئیلےشي- چې په دې کښې د څهٔ څیز، اشخاص یا د ځاے نوم پوښتنه کېږي یا د چا نه څهٔ سوال په کښې وړاندې کېږي- مثالونه ئې په دې ډول دي:

چا او څېک (څوک)- دغه دواړه د اشخاصو له پاره کارېږي- چې د ماضي متعدي په فاعلي حالت او ارتباطي حالات کښې کارېږي- په فقرو کښې به ئې مثالونه داسې وي:

چا وېلي دي؟ (وزیري لهجه)

چاوئیلي دي؟ (لیک لهجه)

چا سره لوړشۀ؟ (وزیري لهجه)

چا سره لاړ دے؟ (لیک لهجه)

څیک روغلائي دائي؟ (وزیري لهجه)

څوک راغلے دے؟ (لیک لهجه)

څېک ئې غوړي؟ (وزيري لهجه)

څوک ئې غواړي؟ (ليک لهجه)

دې نه سېوا دوه نور ضميرونه هم مخې ته راځي چې يو څېمره (څومره) او څې (څو) دي- دا هم د وړاندې په شانتې په درېوو واړو حالتونو کښې کارېږي- دمثال په توګه:

څې کاسون دي؟ (وزيري لهجه)

څو کسان دي؟ (ليک لهجه)

څېمره غوړي؟ (وزيري لهجه)

څومره غواړي؟ (ليک لهجه)

دا ټول استفهاميه ضميرونه دي چې تفصيلي جاج ئې په نحو کښې اخيستلے شي-

**مبهم ضمير**: په وزيرۍ لهجه کښې مبهم ضميرونه هم شته چې هو بهو د استفهاميه په ډول دي- خو د فقرو په سبب ئې پېژندګلوي کېږي- مثال به ئې دا وي: څېک (څوک) چا، څۀ، هېڅ، هر څېک (هرڅوک)، هېڅېک (هېڅوک)، هر يې (هريو) او بل يې (بل يو) او داسې نور دغه ټول مبهم ضميرونه دي چې په فقرو کښې به ئې استعمال په دې ډول وي:

- چاساباک وېلائي دائي وو چا نۀ دائي وېلائي؟ (وزيري لهجه)
- چا سبق وئيلے دے او چا نۀ دے وئيلے؟ (ليک لهجه)
- څېک ماړۍ يا ماړې خوري وو څېک ئې نۀ خوري؟ (وزيري لهجه)
- څوک روټۍ خوري او څوک ئې نۀ خوري؟ (ليک لهجه)
- څې ريپۍ يا ريپې دې رووړې وو څې دې وېر کړې؟ (وزيري لهجه)
- څو روپۍ دې راوړې او څو دې ورکړې؟ (ليک لهجه)
- وېرته خو هېڅ نۀ شته- (وزيري لهجه)
- هلته خو هېڅ نۀ شته- (ليک لهجه)

د مفرد مبهم ضميرونه نه سېوا بعضې وخت مرکب مبهم ضميرونه هم کارېږي- چې مثالونه ئې په دې ډول دي:

- هر څېک خپل خپل کېرينه ته څئ يا څې- (وزيري لهجه)
- هر څوک خپل خپل کورنو ته ځئ- (ليک لهجه)
- هر چا ته مې وۀ وېل- (وزيري لهجه)

- هر چا ته مې ووئيل- (ليک لهجه)
- هېڅېک دا خبره نۀ کو- (وزيري لهجه)
- هېڅوک دا خبره نۀ کوي- (ليک لهجه)

دا هغه مختلف ضميرونه دي چې بعضې په مفرد مبهم کښې حسابېږي او بعضې په مرکب مبهم کښې کاربدلې دي- ځکه خو په هره يوه فقره کښې مبهم جوت دے-

**ارتباطي ضمير:** په وزيرۍ لهجه ارتباطي ضميرونه په فقرو کښې ربط پېدا کوي او يوه فقره د بلې فقرې سره تړي- اکثر دغه ضميرونه د دوو توکو نه جوړېږي- مثالونه ئې په دې ډول دي:

څېک چې، چا چې، څۀ چې، هر څۀ او څېمره چې فاعلي ضميرونه دي- چې په فقرو کښې دغه شانتې کاربږي-

- څېک چې رو نۀ شي ما ئې وېر کوه- (وزيري لهجه)
- څوک چې را نۀ شي مه ئې ور کوه- (ليک لهجه)
- چا چې چار وکړه آ ته چوټي- (وزيري لهجه)
- چا چې کار وکړو هغۀ ته چټي- (ليک لهجه)
- څۀ چې کښې آغا وو دېر ساره شي- (وزيري لهجه)
- څۀ چې کوې هغه به درسره کېږي- (ليک لهجه)
- چې څۀ دې په دا زړۀ وي ووايه- (وزيري لهجه)
- چې څۀ دې په زړۀ وي اوويه- (ليک لهجه)
- څېمره چې واړائي شې يبسه- (وزيري لهجه)
- څومره چې وړې شې يوسه- (ليک لهجه)

په دې باندې فقرو په هره يو فقره دوه دوه ارتباطي ضميرونه دي- هسې خو په يو ضمير سره هم د فقره مکمل کېږي خو هغه شانتې خونداوره نۀ وي- دې سېوا نور ارتباطي ضميرونه هم لرو چې هغه په ډول کښې بدل دي- په ليک لهجه کښې خو ئې قسمونه ډېر دي البته په وزيرۍ لهجه په دوو نه زيات نۀ کاربږي چې يو «ځنې» اوبل په کښې دي- په فقرو «کښې يا شې يا کشې» دغه شانتې کاربږي-

- لشکي خو ئې ځنې رووړه- (وزيري لهجه)

- لږ ئي ترېنه راوړه- (لیک لهجه)
- تهٔ په شي یا کښي اویا کښي نهٔ شته ئي - (وزیري لهجه)
- تهٔ په کښي نهٔ شته ئي- (لیک لهجه)

په د فقرو کښي ځني چي په لیک لهجه کښي «ځني» هم کارېږي خو «ترېنه» لږ خونداور دے او «شي یا کشي او یا کښي» ارتباطي ضمیرونه دي-

## حوالې


1- پښتو اکېډیمي لُغت، مؤلفین: ډاکټر خیال بخاري- مرستیال،ترتیب وسمونه پروفېسر ډاکټر نصرالله جان وزیر، پښتو اکېډیمي پېښور پوهنتون،2018ء/ 1440هـ،مخ:

2- مومند ، ګل محمد ،د پښتو د ژبې لیاره، پېښور د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، 1383ل، مخ: 29

3- رښتین، صدیق الله، پښتو ګرامر (ژباړه: سید محي الدین هاشمي)، پېښور یونیورسټي بک ایجنسي، 1372ل، مخ:44

4- زیار، ډاکټر مجاور احمد، پښتو پښویه (ګرامر)، دریم چاپ، دانش خپرندویه ټولنه، 1384ل، مخ: 83

5- خوږشکي محمد صابر، پښتو غږ پوهنه او ویپوهنه (فونولوژي- مورفولوژي)، پینځم چاپ، جلال کوټ مومند خپرندویه ټولنه، 1389ل، مخ: 19

6- رښتین، صدیق الله، ژبښودنه (پښتو ګرامر)، مومند خپرندویه ټولنه – جلال اباد، ننګرهار، 2019ء1398ل، مخ: 19

7- خوږشکي، محمد صابر، پښتو غږ پوهنه او ویپوهنه،مومند خپرندویه ټولنه- جلال آباد، ننګرهار، 2019ء- 1398ل، مخ: 63

REFERNCES

1- Pashto academy Lughat, Moalefeen: Dr Khyal Bukhari- marstiyal, tarteeb o samawna Prof Dr Nasrullaj jan wazir, pashto academy peshawar university, 2018, p: 1440
2- Momand, Gul Muhammad, Da Pashto Da Zabay lapara, Peshawar n sapi da pashto seranayo hw permakhtya markaz, 1383, P: 29
3- Rekhteen, Sadiqullah, pashto grammar (turjuma: Syed Muhi Din Hashmi) peshawar university books agency, 1372, P: 44
4- Zyar, Dr Mujawar Ahmad, Pashto Pekhuya, (grammar) dre yam chap, Danish Khaprndoya Tolana, 1384, P: 83
5- Kheshki, Muhammad Sabir, pashto ghag pokhana aw wiwpokhana (phonology- morphology), pinzam chap, Jalal abad, ningrahar, 1389, P: 19
6- Rikhteen, Sadiqullah, zabkhdana (Pashto grammar), Momand Khaprendoya Tolanan- Jalalabad, nangrahar, 2019, P;19
7- Kheshki, Muhammad Sabir, Pashto ghag Pokhana aw wiwpokhana, Momand kparandoya Tolana- jalalabad, nangrahar, 2019, P: 63